# دا ستاسو د ۲۰۲۶ کال د ملکیت د ارزونې خبرتیا ده

## خپل د ۲۰۲۶ کال د ارزونې **بیاکتنه** وکړئ

یوه شېبه وخت ونیسئ او په دقت سره د دې خبرتیا په مخکینۍ برخه کې چمتو شوي خپل د ۲۰۲۶ کال د ارزونې بیاکتنه وکړئ. دا ستاسو د ملکیت د بازار ارزښت د ۲۰۲۵ کال د جولای د میاشتې په لومړۍ نیټه، او د ملکیت ځانګړتیاوې او فزیکي حالت د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر د میاشتې په ۳۱ نېټه ښيي. ستاسو د ملکیت ارزونه ستاسو د کلني ملکیت مالیې بل محاسبه کولو لپاره کارول کیږي، کوم چې به د ۲۰۲۶ کال د مې په میاشته کې واستول شي.

## **زده کړئ** چې ستاسو ملکیت څنګه ارزول کیږي

ستاسو د ملکیت ارزښت د هغو ملکیتونو د پلورلو له مخې ټاکل کیږي چې ورته ځانګړتیاوې لري او کوم چې په کلګري کې پلورل شوي دي.

- موقعیت
- کیفیت
- د ودانۍ اندازه
- عمر
- د ځمکې اندازه
- بیارغونه
- اغیزې (لید، ترافیک، شنه ځای، او داسي نور)

**مای ټیکس** د ملکیت مالکینو ته د دوی د ارزونې او ملکیت په اړه نورو مفصلو معلوماتو ته آنلاین لاسرسی وړاندې کوي. خپل خوندي حساب ته په **calgary.ca/mytax** لاسرسی ومومئ:

- د خپل ملکیت جزئیات بیاکتنه او تازه کړئ.
- د پرتلې وړ ملکیتونو لپاره ارزونې وګورئ ترڅو د انصاف او برابرۍ ډاډ تر لاسه شي.
- په چټکۍ سره د خپلو وروستیو ملکیت مالیې بلونو او د ارزونې خبرتیاوې ته لاسرسی ومومئ.
- د ورته ملکیتونو د پلور لټون وکړئ.
- د ښاروالۍ د حکومت د قانون ۳۰۰.۱/۳۰۰، ۲۹۹.۱/۲۹۹ برخو پر بنسټ د نورو ملکیتونو د ارزونو لنډیزونو په ګډون، وګورئ چې ستاسو ارزونه څنګه چمتو شوې.

## د استوګنې د مالیې پیسې **چیرته** ځي؟




**۳۷** سلنه د البرټا حکومت ته ځي

**۶۳** سلنه د کالګري ښاروالۍ خدمتونه تمویلوي

** په تخمیني توګه، د ۲۰۲۵ کال د مالیاتو د وېش پر بنسټ*

## ستاسو د ۲۰۲۶ کال د ملکیت د ارزونې په اړه **پوښتنې**

**ټیلیفون:** ۱۱۳
د کالګري څخه بهر د ۹۸۴۲-۸۶۲-۳۰۴ شمېرې ته زنګ ووهئ

**آنلاین:** **calgary.ca/assessment**

**د اورېدو ستونزه لرونکي:**
د ۳۱۱ غوښتلو لپاره د ۷۱۱ شمېرې سره اړیکه ونیسئ

**خپل د ښوونځي ملاتړ ځرګندول:**
**calgary.ca/schoolsupport**
او یا ۳۱۱ شمېرې ته زنګ ووهئ

**د البرټا د ځمکې د سرلیکونو سره خپل د پوستي پته بدل کړئ:**
۲۷۴۲-۴۲۷-۷۸۰ شمېرې ته زنګ ووهئ
په البرټا کې وړیا شمیرې ته د زنګ وهلو لپاره لومړۍ ۰۰۰۰-۳۱۰ ډایل کړئ
د **alberta.ca/land-titles** څخه کتنه وکړئ

### **ژباړل شوي** مواد شتون لري

پښتو | 简体中文 | ਪੰਜਾਬੀ | Español | العربية

---

### د ملکیت مالیې کې خپله برخه ټاکل

هر کال، ښاروالۍ او ولایت په جلا توګه بودیجه جوړوي او پرېکړه کوي چې د ملکیت مالیې څخه څومره پیسو ته اړتیا لري. ستاسو د ملکیت مالیې برخه ستاسو د ارزونې تصنیف او ستاسو د ملکیت ارزول شوی ارزښت پر بنسټ ده.

**ستاسو د ملکیت ارزول شوی ارزښت ښایي لوړ یا ښکته شي. مګر دا پدې معنی نده چې ستاسو د مالیې بل به په ورته ډول بدل شي.**

د خپل ارزښت بدلون د دې خبرتیا په مخ کې ښودل شوي معمولي بدلون سره پرتله کړئ. که په لاندې ډول وي:

- تر معمول څخه لږ، ستاسو د مالیې برخه کمیږي.
- د معمول په څېر، ستاسو د مالیې برخه همداسې پاتې کیږي.
- تر معمول زیات، ستاسو د مالیې برخه زیاتیږي.

**که څه هم ستاسو د راټول شوي ټول مالیې برخه همداسې پاتې شي، ستاسو د مالیې بل لاهم پورته یا ښکته کېدی شي که چیرې:**

- ښاروالۍ یا ولایت د ملکیت مالیې څخه د اړتیا وړ ټولې پیسې بدلوي.
- د استوګنې او غیر استوګنې ملکیتونو ترمنځ د مالیې د برخې بدلون شتون ولري.

د خپل ملکیت د مالیې د بل اټکل په **calgary.ca/taxcalculator** کې ترلاسه کړئ.

**د ارزونې بیاکتنې اداره**
که تاسو د ښاروالۍ سره خپله ستونزه نشئ هوارولی، تاسو کولی شئ د خپلواک ارزونې بیاکتنې اداري سره یو رسمي شکایت ثبت کړی. ستاسو د شکایت وروستۍ نیټه او فیس د دې خبرتیا په مخ کې ښودل شوی. د شکایت توضیحاتو او اړتیاو لپاره، **calgaryarb.ca** څخه کتنه وکړئ .

بودیجه جوړول اسانه کړئ، هره میاشت د خپل ملکیت مالیه ورکړئ. په **calgary.ca/tipp** کې نوم لیکنه وکړئ.

CRV-41284 | 25-0050724

---

## نور معلومات په **calgary.ca/assessment** کې ترلاسه کړئ